Ministerie van Sociale Zaken en Werkgelegenheid



# نوی په هالنډ کی

هغه مهاجرین چه دکار لپاره راغلی ، هغه کسان چه د پناه مستحق دی ، هغه کسان چه غواړی کورنی جوړه کړی او هغه کسان چه خپل د کورنی سره غواړی یو ځای شی .



تاسی د اروپایی اتحادیی نه بهر هیواد څخه راغلی یاست؟ او د لیختنستاین ، ناروی ، آیسلنډ ، کرواشیا او سویس نه یاست؟ نو دغه معلومات پانه ستاسو لپاره ده .

هالنډ ته ښه راغلاست . په دغه معلومات پانی کی لیکل شوی کله چه تاسی هالنډ ته راغلاست څه باید وکړی . ستاسی حقوق او مکلفیتونه د کارکونکی یا کار ورکونکی په حیث کوم دی . او تاسی چه په هالنډ کی ژوند کوی د کومو مقرراتو او عاداتو سره سر او کار لری.

مونږ هڅه کوو چه په دی معلومات پانی کی تاسو ته د امکان تر حده زیات معلومات درکړو . آیا تاسی غواړی دکوم شی په هکله زیات پوه شی؟ تاسی په هغه وبسایټ کی کوم چه د موضوع څنګ ته لیکل شوی دی ، وګوری . آیا تاسی معلومات پانه د انترنت له لاری لولی؟ تاسی ته یوازی پکار ده چه پر لینک باندی ګوته کښیکاږی . تاسی طبعآ هغی شمیری ته چه د موضوع څنګ ته لیکل شوی ده زنګ هم وهلای شی .

پاملرنه وکړی ، اکثره وبسایټونه په هالنډی ژبه دی . آیا په وبسایټ کی معلومات په بله ژبه هم لیکل شوی؟ دا مونږ.هر وخت خبر ورکوو . آیا تاسی د دغو تیلیفون شمیرو نه یوی شمیری ته زنګ وهی؟ نو دا زیات وخت په انګریزی ژبه کیدای شی .
په اظراری حالاتو کی کولای شی چه هم کولای شی چه خپل د هیواد د سفارت سره اړیکه ونیسی .

# لړليک


## مخکې تر دې چې تاسې هالنډ ته راشئ 4
د اقامې يا ويزې درخواست وکړئ . 5
تاسې خپل د کار د مالک نه وغواړئ چې تاسو ته د کار اجازه يا GVVA درخواست کړي . 5

## تاسې چې هالنډ ته راغلاست، څه بايد وکړئ؟ 6
تاسې وټاکئ چې څومره وخت په هالنډ کې پاته کيږئ . 7
د هالنډ د مؤقتي اوسيدونکي په توګه( نه د اصلي اوسيدونکي) . 7
تاسې ته يوه BSN شميره درکول کيږي . 7
د اوسيدو د آدرس درلودل . 7
صحي بيمه وکړئ . 8
تاسې بايد ځان د ټولنې سره برابر کړئ . 8
تاسې بايد هالنډي ژبه زده کړئ . 8
مرسته او مشوره ستاسو په هيواد کې؟ 9

## په هالنډ کې کار کول 10
د دې لپاره چې تاسې په هالنډ کې کار وکړئ څه شی ستاسو پکار دي؟ 11
د بل هيواد ډيپلومونه 11
د کار شرايط 11
د کار قرار داد 11
د معاش ورقه 11
CAO 12
د کښته معاش حد 12
د کار وختونه 12
د کار مصوون ځای 12
آيا ستاسې د کار مالک د اعتبار وړ دی؟ 12
د ماليې دفتر ته عايداتو راپور ورکول 13
آيا تاسې خپل کار له لاسه ورکوئ؟ 13
آيا تاسې معذور يا بيکاره کيږئ؟ 13
يوه کارې اتحاديه څه شی کوي؟ 14
ځانته شخصي کار کول 14

## په هالنډ کې هستوګنه 16
هر کله د پيژندنې کارت له ځان سره ولرئ . 17
DigiD 17
د کور پيدا کول 17
په هالند کې موټر چلول 18
ماشومان 19
روغتيايي يا صحي بيمه 19
صحي مراقبت 20
ماليات 21
مالي مرستې او د لګښتونه جبرانول 21
غير عادلانه برخورد او تبعيض 22

## نور معلومات او مرسته 23



# مخکی تر دی چه
# تاسی هالنډ ته راشی

## د اقامی یا ویزی درخواست وکړی .

آیا تاسی تر ۹۰ ورځو لنډ وخت پاتیږی؟

نو تاسی د لنډی مودی لپاره ویزه درخواست کړی . تاسی خپل په هیواد کی د هالنډ دسفارت یا قونسلگری ته د ویزی درخواست ورکړی . هر چاته ویزه پکار نده پر ind.nl باندی کلیک کړی . (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د وبسایټ دی .

آیا تاسی تر ۹۰ ورځو اوږده موده پاتیږی؟

نو تاسی د اقامی اجازه او دخولی ویزه یو ځای درخواست کړی . دغه دخولی ویزه د (Machtiging tot Voorlopig Verblijf, MVV) د مؤقتی اقامی اجازی په نامه یادیږی . دا د دخول او اقامی (TEV) پروسه ده غیر له MVV تاسی هالنډ ته نشی راتلای . دا د (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د له خوا درکول کیږی . ستاسو هر وخت MVV نده پکار ، تاسی په ind.nl کی وگوری .

**پاملرنه وکړی ، تاسی نشی کولای لومړی هالنډ ته راشی او وروسته تر هغه د MVV او د اقامی اجازه درخواست کړی .**
مگر ستاسو ځینی وخت MVV نده پکار . د بیلگی په توگه ؛ که چیری تاسی ځینی ملکونو تابیعت ولری او یا لږ تر لږه ۵ کاله د اروپایی اتحادیی په یوه هیواد کی په قانونی توگه سره اوسیدلی یاست . تاسی هغه وخت بی له MVV هالنډ ته راتلای شی او دلته د اقامی اجازه درخواست کولای شی .

## تاسی خپل د کار د مالک نه وغواړی چه تاسو ته د کار اجازه یا GVVA درخواست کړی .

که تاسی په هالنډ کی کار غواړی وکړی ستاسو اکثره وخت د کار کولو اجازه او یا (Gecombineerde Vergunning voor Verblijf en Arbeid, GVVA) د کار او اوسیدلو گډه اجازه پکار ده .

- آیا تاسی تر ۹۰ ورځو کم وخت لپاره په هالنډ کی کار کوی؟ ستاسو د کار مالک باید د UWV نه تاسو ته د کار کواو اجازه درخواست کړی . په werk.nl/werkvergunning باندی کلیک وکړی .
- آیا تاسی په هالنډ کی تر ۹۰ ورځو په اوږدی مودی کی غواړی کار وکړی؟ باید ستاسی د کار مالک اکثره وخت تاسوته د GVVA درخواست وکړی . دا ستاسو د کار مالک په (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د کی سرته رسوی . په ind.nl باندی کلیک وکړی .
- آیا تاسی یو شرکت خلاصوی او شخصی کار کوی؟ نو تاسو ته د کار اجازه پکار نده . مگر د شخصی کارکونکی په توگه د اقامی اجازه پکار ده . تاسی باید ددی اجازه هم ولری چه په یوه شرکت پیل وکړی . دا په (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د کی کیږی . په ind.nl کی وگوری . او په په شخصی کار کول و کی .



# تاسی چه هالنډ ته راغلاست، څه باید وکړی؟

## تاسی وتاکی چه څومره وخت په هالنډ کی پاته کیږی .

### آیا تاسی تر ۴ میاشتو اوږده موده پاته کیږی؟

نو تاسی باید د هالنډ د( اوسیدونکی ) په توګه خپل نوم ثبت کړی .
دا په هغه ښار کی چه تاسی اوسیږی کیدای شی .

### آیا تاسی تر ۴ میاشتو لنډ وخت پاته کیږی؟

نو تاسی کولای شی خپل ځان په هالنډ کی په مؤقتی توګه
(نه داصلی اوسیدونکی) په توګه ثبت کړی .

**آیا ستاسی د نوم په ثبتولو کی نا وخته یاست؟**
شاید چه تاسی جریمه ورکړی . دا امکان لری چه تر ۳۲۵ ایرو
پوری وی . د نور معلومات لپاره تاسو Rijksoverheid :
**+31-77-4656767** او **1400** .

## د هالنډ د مؤقتی اوسیدونکی په توګه (نه د اصلی اوسیدونکی) .

دا د ۱۹ ښارونو د ثبت په غرفو کی سرته رسیږی . الکمار ، المیلو ، امستردام ، بریدا ، دن هاګ ، دوتنخیم ، ایندوفن ، خروننګین ، خوس ، هیرلن ، لیواردن ، لایدن ، نایمیخن ، روتردام ، ترنویزن ، اتریخت ، فینلو ، ویستلنډ او زووله . ددی لپاره تاسی ته یوازی د اعتبار وړ هویت سند پکار دی .

پامارنه وکړی ، آیا تاسی بیا هم تر ۴ میاشتو زیاته موده پاتیږی ؟
نوتاسی دا ژر تر ژره خبر ورکړی . دا باید تاسی خپل د اوسیدنی په ښار کی سرته رسوی . تاسی د هالنډ( اوسیدونکی) کیږی .

**د هالنډ د (اوسیدونکی) په توګه د نوم ثبتول**
دادهغه ښار په ښاروالی کی چه تاسو ژوند کوی سرته رسوی .
دا باید ستاسو د راتګ د لومړی ورځی نه وروسته په ۵ ورځو
کی سرته ورسیږی . د نوم ثبتول وړیا دی . تاسی خپل د کورنی
تولو کسان چه ژوند درسره کوی له ځان سره یوسی .

### تاسی ښاروالی ته څه شی له ځان سره وړی؟

- د کورنی د ټولو کسانو لپاره: یو د اعتبار وړ پاسپورت یا د هویت کارت .
- په هالنډ کی ستاسو د کور د کرایی یا رانیولو قرارداد .
- ستاسی د هیواد مهم اسناد لکه : د زیږیدلو سند یا نکاح خط .

### آیا تاسو د یو چا سره په کور کی اوسیږی؟

دغه کس باید پر کاغذ باندی تصدیق وکړی چه تاسی په کور کی ژوند ورسره کوی . د هغه د هویت د سند یوه کاپی هم له ځانه سره راوړی .

## تاسی ته یوه BSN شمیره درکول کیږی .

وروسته د نوم تر ثبتولو د موقتی یا اصلی اوسیدونکی په توګه تاسو ته یو(Burgerservicenummer, BSN) داوسیدونکو ځانګړی شمیره شمیره درکول کیږی . دا ستاسی پکار ده. د بیلګی په توګه :

- کار
- د بانک شمیره
- کورنی ډاکټر یا روغتون
- خپل د ماشومانو د ښوونځی

## د اوسیدو د آدرس درلودل .

ستاسو یو د اوسیدو آدرس پکار دی . دا یوازی ممکنه ده چه تاسی خپل نوم ثبت په ښاروالی کی ثبت کړی . تاسی په دی هکله نور لوستلای شی په هالنډ کی اوسیدل .

### آیا تاسی کډه کوی؟

- تاسی بل ښار ته کډه کیږی؟ نو تاسی خپل نوی پته خپل نوی ښاروالی ته خبر ورکړی. دا د ښاروالی د وبسایټ له لاری کیږی. ضرور نه ده چه تاسو خپل ځان بیا ثبت کړی .
- آیا تاسی خپل په ښار کی بل ځای ته کډه کیږی؟ دا باید تاسو خپلی ښاروالی ته خبر ورکړی .
- آیا تاسی بیرته خپل هیواد ته ځی؟

- د هالنډ د اوسیدونکی/ میشته کس په توګه : دا خپل ښاروالی ته خبر ورکړی .
- که چیری تاسی د لنډ ی مودی لپاره / نه ددایمی هستوګنی لپاره په هالنډ کی اوسیږی ضرور نده چه خبر ورکړی .

تاسی خپل BSN شمیره ساتی . که تاسی بیرته هالنډ ته راشی ، ضرور نه ده چه تاسی نوی BSN شمیره درخواست کړی . آیا تاسی بیا د هالنډ اوسیدونک کیږی؟ نو تاسی باید خپل نوم بیاخپل په ښاروالی کی ثبت کړی .

## صحی بیمه وکړی .

یوه هالنډی صحی بیمه اجباری ده .
که څه هم تاسی خپل په وطن کی صحی بیمه لری .
صحی بیمه د کورنی ډاکټر تولو لګښت ورکوی . او د درملو او.روغتون د لګښت یوه برخه. تاسی د صحی بیمی په باب نور معلومات په صحی بیمه ولولی .

**پاملرنه وکړی : آیا تاسی صحی بیمه نه کوی؟** نو تاسی جریمه کیږی. او تاسی باید د ډاکټر ټوله لګښت خپله ورکړی. دنور معلومات لپاره دصحی بیمی ټیلیفون Zorgverzekeringslijn :
یا **0800-6464644** او **+31-889006960** . ته زنګ ووهی .
او یا په zorgverzekeringslijn.nl/coming-from-abroad کی وګوری .

## تاسی باید ځان د ټولنی سره برابر کړی .

که چیری تاسی د اروپایی اتحادیی څخه یوه وټلی هیواد یاست نو د ټولنی سره ځان برابرول اجباری ده . د ټولنی سره په ځان برابرولو سره تاسی د هالنډ په هکله زده کړه کوی. تاسی په هالنډی ژبه خبری کول ، لیکل ، اوریدل او لوستل زده کوی .  او تاسی زده کوی چه کارځرنګه پیدا کولای شی .
که تاسی ځان د ټولنی سره باید برابر کړی ، د (Dienst Uitvoering Onderwijs, DUO) ښوونی د اجرائیه اداری نه یو.لیک تر لاسه کوی په inburgeren.nl کی وګوری
او یا DUO ته زنګ ووهی : 050-5999600 .

د ټولنی سره ځان برابرول باید په ۳ کلونو کی سرته ورسیږی .
تاسی باید د هالنډی ژبی او ټولنی د پیژندنی ډیپلوم واخلی. دا باید تاسی وروسته د اقامی تر اخیستلو د ۳ کلونو په مودی کی وشی .
آیا تاسی لیک اولوست نشی کولای . نو تاسو ته ۵ کاله وخت درکول کیږی چه د هالنډی ژبی او ټولنی د پیژندنی ډیپلوم واخلی .

**پاملرنه وکړی ، آیا تاسی د هالند د ټولنی سره ځان نشی برابرولای او د دی لپاره یو ښه دلیل لری؟** یا ستاسی د هالنډی ژبی لیک او لوست زده دی؟ نو ستاسی لپاره نور مقررات د تطبیق وړ دی . تاسی په inburgeren.nl کی وګوری .

د ځان سره زده کړه یا ښوونځی ته تلل
تاسی د هالنډی ژبی او ټولنی د ډیپلوم د اخیستلو لپاره خپله زده کړه کولای شی. تاسی په ښوونځی کی کورس پر مخ بیوای شی .

تاسی په ښوونځی کی یو کورس هم تعقیبولی شی .
د هالنډی ژبی زده کړی او د ټولنی سره ځان برابرلو لپاره پیسی پکار دی . تاسی کولای شی چه (Dienst Uitvoering Onderwijs, DUO) ښوونی د اجرائیه اداری د اداری څخه قرضه واخلی . مګر دا یوازی هغه وخت کیدای شی چه تاسی د ژبی د زدکړی په یوی رسمیت پژندل شوی ښونځی کی کورس تعقیب کړی . په blikopwerk.nl/inburgeren کی تاسی د په رسمیت پیژندل شوو ښوونځیو یو.لیست موندلی شی . تاسی یوازی د دغو ښوونځیو لپاره قرضه اخیستلی شی .
هغه مهاجرین چه د پناه اخیستلو حق لری ( قبول شوی دی) او د هالنډی ژبی او ټولنی د پیژندنی زده کړه یی په وخت سره پای ته رسوولی ، ضرور نده چه د قرضی پیسی بیرته ورکړی .

## تاسی باید هالنډی ژبه زده کړی .

دا مهمه ده چه تاسی هالنډی ژبه ژر زده کړی . تاسی به خپل په سویی د کار زیات امکانات ولری . تاسی خپل د ښاروالی یا کورنی ډاکټر سره خبری وکړی . او.خپل د ماشومانو د ښوونځی سره .

د انترنت له لاری کورسونه
تاسی کولای شی هالنډی ژبه خپله زده کړی . دا کیدای شی د :
- Oefenen.nl د هالنډی ژبی د تمرین کولو.لپاره. دا وړیا ده .
- Naarnederland.nl تر ۳۰ زیاتو ژبو باندی . دا وړیا ده.
- NT2taalmenu.nl دا وړیا ده .

په یوی ټولګی کې
تاسی د یو بل کس سره چه نوی نوی دی، هالنډی ژبه زده کوی . تاسی ددی لپاره د (Dienst Uitvoering Onderwijs, DUO) ښوونی د اجرائیه اداری څخه د قرضی درخواست وکړی . مګر دا یوازی هغه وخت کیدای شی چه تاسی یو په رسمیت پیژندل شوی کورس تعقیب کړی . همدارنګه ښاروالی ګانی هم کله کله کورسونه وړاندی کوی . تاسی خپل د ښاروالی نه پوښتنه وکړی چه آیا همداسی ده که نه . تاسی دا خپله هم د taalzoeker.nl له لاری له لاری کولای شی .

د ژبی د یوه داوطلب کس سره
د هالنډی ژبی د ښی زده کړی لپاره تاسی باید زیات تمرین وکړی . یو د ژبی یو رضاکاره ښوونکی ( د ژبی د زده کړی ملګری) ستاسی سره پدی کی مرسته کولای شی . دا تاسی د
hetbegintmettaal.nl/integratie/nederlands-leren
او د taalzoeker.nl له لاری .

د کار د مالک له لاری
ستاسی د کار د مالک لپاره دا هم مهمه ده چه ستاسو  هالنډی ژبه ښه زده وی . ځکه چه تاسی په مقرراتو پوهیږی او دا تر ټولو مصئوونه ده . تاسی به هم آسانه وی چه په کی کورسونه تعقیب کړی . نو تاسی ځکه وپوښتی چه آیا تاسی د کار له خوا کولای شی د ژبی کورس تعقیب کړی . ستاسی د کار مالک کولای شی ددی لپاره د مرستی د پیسو غوښتنه درته وکړی .

## مرسته او مشوره ستاسو په هیواد کی؟

- تاسی د هالنډ د سفارت سره اړیکه ونیسی . په rijksoverheid.nl/onderwerpen/ambassades-consulaten-en-overige-vertegenwoordigingen/inhoud هغه ټوله هیوادونه چه په هالنډ کی سفارت لری ، لیکل شوی دی .

**آیا تاسی د اقامی اجازه لری؟**

**نه : که چیری تاسی تابیعت لری د :**

- یو EU هیواد ( اروپایی هیواد)
- لیختنستاین
- ناروی
- آیسلنډ
- سویس
- کرواسیا

**هو : که تاسی د یو بل هیواد تابیعت لری .** او دا تصمیم لری چه تر ۹۰ ورځو اوږده موده په هالنډ کی پاته شی . تاسی خپل د اقامی اجازه د (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د څخه واخلی .
تاسی په ind.nl کی وګوری .



# په هالنډ کې کار کول

## د دی لپاره چه تاسی په هالنډ کی کار وکړی څه شی ستاسو پکار دی؟

### د وګړو ځانګړی شمیره

که تاسی غواړی په هالنډ کی کار وکړی ، ستاسو یوه (Burgerservicenummer, BSN) داوسیدونکو ځانګړی شمیره پکار ده . دا تاسی د نوم د ثبتولو په وخت کی تر لاسه کوی . تاسی نور معلومات په تاسی ته یو BSN لمبر درکوی . کی ولولی .

### د ځان پیژندنی مکلفیت

په هالنډ کی باید تاسی ځان وکولای شی و پیژنی هم خپل په کار کی ستاسی د کار مالک ستاسو د هویت سند کاپی اخلی . ستاسی د کار مالک ستاسو د هویت سند نشی در څخه اخیسنلی .

### د هالنډی بانک شمیره

ستاسی د کار مالک ستاسی معاش ستاسو د بانک شمیری ته ولیږی . ستاسی د معاش یوه برخه کیدای شی نقدی یا د بل شی په بدل کی در کړی . دا برخه یوازی تر ټولو لږ معاش ته اجازه شته ، چه ستاسی په سن پوری اړه لری. ستاسی په هیواد کی یوی بانکی شمیری ته هم کیدای شی . مګر وخت زیات نیسی تر څو چه ستاسو لاس ته راځی .

### یو د کار اجازه ( TWV)

آیا تاسی تر ۹۰ ورځو لنډه موده کار کوی؟ نو ستاسو یوه د کار اجازه ( TWV) پکار ده . دا باید ستاسی د کار مالک تاسو ته د UWV څخه وغواړی . په werk.nl/werkvergunning کی وګوری .

آیا تاسی خاص د کار لپاره هالنډ ته راغلی یاست؟ آیا تاسی یو کار پیدا کړی؟ آیا تاسی ژر په کار بادنی پیل کوی؟ آیا تاسی تر ۹۰ ورځو زیات وخت پاته کیږی؟ نو ستاسی د کار مالک باید زیات اکثره وخت د (Gecombineerde Vergunning voor Verblijf en Arbeid, GVVA) د کار او اوسیدلو ګډه اجازه درخواست کړی . دا ستاسی د کار مالک تاسو ته د (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د نه غواړی . تاسی په ind.nl کی وګوری . ضرور نه دی چه تاسی دسفر د ویزی (MVV) درخواست وکړی .

## د بل هیواد ډیپلومونه

آیا تاسی په یوه بل هیواد کی زده کړه دی؟ او ډیپلوم مو اخیستی دی؟ تو یا تاسی داسی شغل درلود چه تاسی د هغه لپاره باید یو خاصه زده کړه یا تمرین کړی وای؟ ستاسی ډیپلوم او شهادتنامه په اتومات د اعتبار وړ نه ده . تاسی کولای شی چه دا په دنهاګ کی د Nuffic یا په زوتر میر کی د SBB نه وپوښتی .

- Nuffic نوفیک ته زنګ ووهی : 070-4260260 یا په epnuffic.nl/en/diploma-recognition .
- (Stichting Samenwerking Beroepsonderwijs Bedrijfsleven, SBB) د شرکتونو د حرفه یی تعلیماتو د همکاری اداری ته زنګ ووهی : 088-3880000 . یا په s-bb.nl/en کی وګوری .

## د کار شرایط

هیڅوخت په کار پیل ونکړی بی له دی چه د کار په شرایطو باندی پوه نشی .

### د کار ابتدایی شرایط

، هر څوک چه په هالنډ کی کار کوی په یوه ډول کار د ابتدایی شرایطو حق لری . دا د هالنډ په بیلا بیلو قوانینو کی لیکل شوی دی . د کار ابتدایی شرایط د بیلګی په توګه دا دی :

- د قانون له مخی د کښته معاش حد
- د رخصتی ورځی
- د رخصتی پیسی
- د مریضی په مودی کی د ۷۰ فیصده معاش اخیستل
- د میندوارتوب رخصتی

### د کار اضافی شرایط

اکثره وخت ستاسی د کار مالک CAO ( دکار ګډ قرارداد) لری . چه په هغه کی هر کله اضافی ټاکنی لیکل شوی دی . او کله هم د کار مالکان خپل شرایط لری . د بیلګی په توګه د کار اضافی شرایط عبارت دی د :

- د کښته معاش تر حده جګ معاش
- د کال د پای معاش
- د رخصتی لپاره تر کښته حد زیاتی پیسی
- د ناروغی په مودی کی تر ۷۰ فیصده زیات معاش
- د موټر اخیستل په قسط سره

نور د CAO په هکله : CAO .

## د کار قرار داد

خپل د کار د شرایطو په هکله واضح ټاکنی وکړی . دا اکثره وخت د کار په قرار داد کی سرته رسیږی . مګر په هالنډ کی اجازه شته چه د کار شرایط په شفاهی توګه سره هم ټاکل شی . مګر که ستاسی د کار مالک خپل پر وعدی تر سره نکړی؟ تاسی بیا کوم سند نلری . تاسی تل هڅه وکړی چه دغه ټاکنی په تحریری توګه تثبیت شی . دا د ای میل له لاری هم اجازه ده .

## د معاش ورقه

آیا تاسی یوه هالندی شرکت ته کار کوی؟ نو تاسی ته د معاش ورقه درکول کیږی . د بیلګی په توګه په هغه کی لیکل شوی دی :

- ستاسی پوره معاش
- هغه مالیی او بیمی چه ستاسی دمعاش نه ګرځوی . دبیلګی په توګه : دعایداتو مالیات
- ستاسی خاص معاش دا ستاسی خالص معاش دی چه مالیی او بیمی ځینی وضع شوی دی .
- تاسی په اونی کی څو ساعته کار کړی دی . دبیلګی په توګه : ۳۲ ساعته په اونی کی
- هغه موده چه معاش یی تر لاسه کوی . دبیلګی په توګه : د جولای میاشت

## CAO

اکثره د کار مالکان یوه CAO (د کار ګډ قرار داد) لري . په CAO کې د کار په هکله ټاکلې لیکل شوې دي . دا د کار د مالکانو او کارکونکو تر منځ وعدې یا ټاکنې دي . دکار یو مالک باید دا په نظر کې ونیسي .
کیدای شي چه یوه CAO د قانوني ټاکنو څخه توپیر ولري . مګر دا یوازې هغه وخت چه د کار د مالک په ګټه وي . نو ځکه تاسې ته تر کښته ټاکل شوی قانوني حد لږ معاش باید در نکړي . مګر زیات تر هغه کیدای شي .
آیا تاسې غواړې وپوهیږې چه ستاسې د کار مالک CAO لري؟ خپل د کار د مالک یا د کارګرې اتحادیې څخه پوښتنه وکړې .
د دې لپاره یوه کار ګرې اتحادیه څه شی کوي؟ وګورې .

## د کښته معاش حد

هالند د کښته معاش او رخصتي د پیسو یو حد لري . ستاسې د کار مالک اجازه لري چه زیات معاش درته درکړي . مګر لږ نه تاسې د نور معلومات لپاره په :
rijksoverheid.nl/onderwerpen/minimumloon
او یا inspectieszw.nl کې وګورې .

**پاملرنه وکړې: آیا ستاسې د کار مالک CAO لري؟** نو تاسې باید هغه معاش واخلې چه په CAO کې لیکل شوی دی . آیا ستاسې د کار مالک CAO نلري؟ نو تاسې باید هر کله نظر خپل عمر ته ټاکل شوی لږ حد معاش تر لاسه کړي .
آیا تاسې تر CAO لږ معاش اخلې؟ نو تاسې باید د کارګرې اتحادیې سره اړیکه ونیسې . آیا تاسې تر ټاکل شوی لږ معاش لږ اخلې؟ نو تاسې د تفتیش د اداری Inspectie SZW سره اړیکه ونیسې : **+31-70-3335678** او **0800-5151** .
او یا په inspectieszw.nl کې وګورې .

## د کار وختونه

په هالنډ کې د کار د وختونو لپاره قانوني مقررات شته . چه دا د هر چا لپاره د اعتبار وړ دي . نو تاسې ته هم چه د یوه بل هیواد یاست دغه مقررات د کار د وختونو په قانون کې لیکل شوې دي .

### د CAO له مخې د کار وختونه

هر د کار مالک باید د کار د وختونو قانون مراعات کړي . د کار د مالک په CAO کې کیدای شي اضافي ټاکنې لیکل شوی وي . تاسې خپل د کار د مالک سره هم ټاکنې کولای شې . دبیلګې په توګه : ستاسې په CAO کې لیکل شوي چه تاسې باید ۳۶ ساعته په اونۍ کې کار وکړې . مګر تاسې خپل د کار د مالک سره وعده ایږدې چه ۳۲ ساعته کار وکړې . دا اجازه ده .

### اضافه کارې

آیا تاسې د CAO تر ټاکلې حد زیات کار کوې؟ نو دا اضافه کارې ده . تاسې اکثره وخت د اضافه کارې لپاره زیات معاش اخلې .

### د ورځې لخوا کار

تاسې تر ۴۸ ساعته د زیات کار اجازه نلرې . کله کله هم تاسې په اکثر حد سره د ۶۰ ساعتونو کار اجازه لرې . او په یوه ورځ کې تاسې په اکثر حد سره د ۱۲ ساعته کار اجازه لرې . د کار په منځ کې تاسې د تفریح حق لرې .

### د شپې لخوا کار

آیا تاسې د شپې لخوا کار کوې؟ نو تاسې اجازه نلرې چه په یوې اونۍ کې تر ۴۰ ساعته زیات کار وکړې . د نور معلومات لپاره تاسې په : inspectieszw.nl کې وګورې .

## د کار مصوؤن ځای

تاسې د کار د روغ او مصوؤن ځای حق لرې . کله کله تاسې د ځان ساتنې لپاره ځینې شیان لکه : مخصوصه خولې او عینکې باید واغوندی . ستاسې د کار مالک باید دغه د ځان ساتنې شیان تاسو ته درکړي . دا باید وړیا وي .
آیا تاسې په یوه ځای کې د بنایې او یا باغوانۍ کار کوې؟ او یا تاسې د خطر ناکه توکو سره کار کوې؟ د بیلګې په توګه : ایمنې یا شیمیاوی توکې نو بیا ستاسو د مصوؤنیت او روغتیا لپاره خاص مقررات شته . په inspectieszw.nl کې وګورې . او یا په arboportaal.nl . تاسې خپل د کار ګرې اتحادیې یا د شرکتونو د اتحادیې سره اړیکه ونیسې .

## آیا ستاسې د کار مالک د اعتبار وړ دی؟

### آیا تاسې غواړې د کار یابې د اداري لخوا کار کړې؟

نو تاسې دا کنترول کې چه د کاریابې اداره :

- دا دفتر په (Kamer van Koophandel, KvK)
اطاقونو د تجارت په کې ثبت دی . دا د kvk.nl له لارې کیدای شي .
او یا 0900-1234567 ته زنګ ووهې . (0,70 € په دقیقه کې) .
- د کار د نورم اداره (Stichting Normering Arbeid, SNA) شهادت نامه لري . دا د normeringarbeid.nl/en/ کیدای شي .
- جریمې اخیستې دې. تاسې د دې لپاره په sncu.nl کې وګورې .
- د شرکتونو د اتحادې غړې دی. دا خپل غړې د CAO په مراعات کولو کې کنترولوي . هغوی خپل د غړو څخه د کیفیت غوښتنې کوي .
  - تاسې (Algemene Bond Uitzendondernemingen, ABU) ته د کاریابې د شرکت عمومي اتحادیه زنګ ووهې :
020-6558255 ته زنګ ووهې . یا په abu.nl کې وګورې .
  - NBBU ته زنګ ووهې . 033-760200 . یا nbbu.nl ته وګورې .

### آیاستاسی د کار مالک هالنډی لری؟

کنترول کړی چه آیا :

- چه آیا هغه د تجارت په اطاقونو (Kamer van Koophandel, KvK) اطاقونو د تجارت په کی ثبت شوی دی؟ دا د kvk.nl له لاری کیدای شی . یا 0900-1234567 ته زنګ ووهی . (0,70 € په دقیقی کی) .
- او CAO لری . د کار مالک باید د CAO ټاکنی مراعات کړی . تاسی د دی لپاره کولای شی ته زنګ ووهی ( وګوری چه کارګری اتحادیی څه شی کوی؟) یا د دولت Rijksoverheid : 1400 او +31-77-4656767 .

### آیا تاسی د کار مالک خارجی دی؟

خارجی د کار مالک هم باید مهمی قانونی ټاکنی لکه : ټاکل شوی کښته معاش ، د کار وختونه او دکار حالات مراعات کړی . او.که چیری CAO وی ، دا د کار خارجی مالکانو لپاره هم د اعتبار وړ ده . د حقوقی مرستو د معلوماتی غرفی Juridisch Loket څخه مرسته او مشوره وغواوی . د دی لپاره 0900-8020 شمیری ته زنګ ووهی .

**پاملرنه وکړی : ستاسی د کار خارجی مالک باید ستاسو د معاشونو مالیه د مالیی دفتر Belastingdienst ته ورکړی.** ستاسی د کار مالک دا کار نه کوی؟ نو که تاسی بیکاره شی د WW ( د بیکاری معاش) مستحق نه یاست . او یا که تاسی ناروغه شی. تاسی دا د مالیی په دفتر Belastingdienst کی کنترول کولای شی . تاسی د مالیی د دفتر تیلیفون Belastingtelefoon Buitenland ته په بهر کی : **055-5385385** ته زنګ ووهی .
ستاسی خپل BSN - لمبر پکار دی ( د اتباعو ځانګړی شمیره) .

## د مالیی دفتر ته عایداتو راپور ورکول

تاسو د کارګر په حیث او یا که د مرستی معاش اخلی ، باید مالیه ورکړی که چیری :

- د مالیی دفتر دا ستاسی څخه وغواړی
- تاسی با معاشه کار کړی او د مالیی دفتر پدی پوهیږی
- تاسی سرمایه لری

آیا ناسی شخصی کار کوی؟ نو تاسی باید هر وخت مالیه ورکړی . دا کیدای شی مخکی او یا وروسته . زیات د : که تاسی شخصی کار کوی . د شخصی کار کونکی په حیث تاسی هر کال مکلف یاست چه د مالیی دفتر ته خپل د عایداتو په هکله خبر ورکړی . تاسی خبر ورکوی چه تاسو څومره ګټلی دی .
د عایداتو په هکله باید د می تر اولی نیټی مخکی خبر ورکړه شی .
د نور معلومات لپاره تاسی د مالیی د تیلیفون شمیری ته ته زنګ ووهی Belastingtelefoon : 0800-0543 .
او یا په belastingdienst.nl/english
کی وګوری . یا belastingdienst.nl/deutsch .

## آیا تاسی خپل کار له لاسه ورکوی؟

شاید چه تاسی د WW ( د بیکاری معاش) مستحق یاست . د دی لپاره مقررات شته : دا چه تاسی خپل کار له لاسه ورکوی باید ستاسی ګناه نه وی .

- تاسی باید په آخرو ۳۶ اونیو کی لږ تر لږه ۲۶ ساعته کار کړی وی .
- تاسی مجبور یاست چه بل کار ولټوی .
- د نومعلومات لپاره تاسی UWV ( د مرستی د معاش اداره) ته زنګ ووهی . 0900-9294 ته زنګ ووهی . (0,04 € په دقیقه کی 0,045 € د پیل کولو لپاره) . او یا په uwv.nl/particulieren/ internationaal/werken-in-nederland کی وګوری .

## آیا تاسی معذور یا بیکاره کیږی؟

### د جاری معاش اخیستل

ستاسی د کار مالک باید ستاسو معاش حواله کړی . اکثره وخت دا ستاسو د معاش ۷۰٪ دی. زیات وخت تاسی په لومړیو دوو ورځو کی معاش نه اخلی .

### WIA

آیا تاسی تر ۲ کلونو زیاته موده ناروغه یاست؟ نو تاسی په WIA کی راځی ( د کار څخه د معذوریت معاش) . UWV ګوری چه آیا تاسی څومره کار لا کولای شی. او آیا تاسی د مرستی د معاش مستحق یاست که نه .

### دناروغی قانون

آیا تاسی د کار یابی دفتر ته کار کوی؟ او تاسی دایمی قرارداد نلری؟ نو تاسی د ناروغی د قانون له مخی د مرستی معاش تر لاسه کوی.
د ناروغی د قانون او WIA ( د کار څخه د معذوریت معاش)
په هکله د نور معلومات لپاره په uwv.nl کی وګوری .

### ناروغی او بر طرفی

که تاسی ناروغه یاست ، ستاسو د کار مالک حق نلری چه تاسی بر طرفه کړی . په غیر له:

- که تاسی خپل په امتحانی دوره کی یاست
- که چیری تاسی پوره ۲ کاله ناروغه یاست
- که تاسی په عاجله توګه بر طرفه شی .

پاملرنه وکړی: ممکنه ده چه د مرستی د دی سبب شی چه تاسی باید د هالنډ څخه ووځی. تاسی د (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د څخه پوښتنه وکړی چه آیا دا تاسی ته هم ممدارنګه ده . تاسی ددی لپاره د IND د اته معلوماتی دفترونو څخه یوه دفتر ته ورشی . دا په امستردام ، دن بوس ، آیندهوفن ، هوف دورپ ، روتردام ، رایزوایک ، اوتریخت او زووله کی دی . د یوه ملاقات لپاره زنګ ووهی : **088-0430430** په ind.nl/organisatie/contact/adressen کی وګوری .

## یوه کاری اتحادیه څه شی کوی؟

یوه کاری اتحادیه هڅه کوی چه کارکونکی خپل حقوق تر لاسه کړی . د بیلگی په توگه : ستاسو د کار د مالک سره د CAO په هکله ټاکنی جوړوی . یوه کاری اتحادیه هم ستاسو سره مرسته کوی : که د که چیری تاسی CAO په هکله پوښتنی ولری .

- ستاسی سره د مالیاتو د فورمی په ډکولو کی مرسته کوی .
- د ستونځو په وخت کی د حقوقی مرستو په ورکولو کی
- ممکنه ده مخ کی تر دی چه مرسته درسره وشی تاسی، تاسی غړیتوب تر لاسه کړی .

آیا تاسی غواړی نور هم پوه شی چه یوه کاری اتحادیه څه شی کوی؟ پوښتنه وکړی د بیلگی په توگه :

- (Federatie Nederlandse Vakbeweging, FNV) د مسلکی حرکت فدریشن د هالنډ 088-3680368 شمیری ته زنگ ووهی . او یا په fnv.nl/contact کی وگوری .
- (Christelijk Nationaal Vakverbond, CNV) د مسیحیانو ملی ټولنه 030-7511001 شمیری ته زنگ ووهی . او یا په cnv.nl کی وگوری .



**د کار په ځای کی ستونځی**

- آیا تاسی تر ټکل شوی کښته معاش لږ معاش اخلی؟ نو تاسی تفتیش ته زنگ ووهی . Inspectie SZW : **0800-5151** .
- آیا تاسی د CAO تر معاش لږ اخلی؟ د کاری اتحادیی سره اړیکه ونیسی .
- آیا تاسی د کار لټونی د اداری لخوا معرفی شوی یاست او ستاسی تر ټاکل شوی CAO کښته معاش لږ اخلی؟ نو تاسی کولای شی (Stichting Naleving CAO (SNCU, voor Uitzendkrachten د کار لټونی د اداری لخوا معرفی شویو کسانو د CAO د مراعاتولو اداری ته زنگ ووهی : **0800-7008** تاسی طبعاً د یوی کاری اتحادیی سره هم اړیکه نیولی شی . یوه کاری اتحادیه څه کولای شی؟ .
- آیا تاسی باید زیات وختونه تر CAO یا د کار په قرارداد کی لیکل شوی حد څخه ډیر کار وکړی؟ نو تاسی تفتیش Inspectie SZW : **0800-5151** ته زنگ ووهی . او یا په inspectieszw.nl کی وگوری .
- آیا تاسی باید یو نا مصوونه کار وکړی؟ نو تفتیش ته زنگ ووهی Inspectie SZW : **0800-5151** .
- آیا ستاسی د کار مالک ستاسو څخه په غلطه توگه کار اخلی؟ د بیلگی په توگه : د کار نا مصوونه او سخت حالات ، ویرول آیا دوکه ورکول؟ او یا ستاسی د کار مالک ستاسو پاسپورټ اخلی؟ دا کیدای شی استثمار وی . تاسی کولای شی د استثمار په هکله : هکله Inspectie SZW : **0800-5151** ته خبر ورکړی inspectieszw.nl او یا بی له ځان معرفی کولو نه Meld Misdaad Anoniem : **0800-7000** ته زنگ ووهی د مرستی لپاره تاسی کولای شی Stichting FairWork : **020-760080** ته زنگ ووهی .

## ځانته شخصی کار کول

تاسی کولای شی شخصی کار وکړی . د دی کار لپاره مقررات شته . ستاسی د شخصی کار لپاره د اقامی اجازه پکار ده . د ادا (Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND) اداری مهاجرت اوتابیعت د له لاری کیږی . د نور معلومات لپاره په ind.nl کی وگوری .
تاسی باید د شخصی کار د سرته رسو لو لپاره خپل نوم (Kamer van Koophandel, KvK) په اطاقونو د تجارت په کی ثبت کړی . دا کار باید د اقامی د اجازی تر درخواست کولو مخکی وکړی .

### د تجارت په اطاقونو کی د نوم ثبتول

تاسی باید په (Kamer van Koophandel, KvK) کی اطاقونو د تجارت په خپل نوم ثبت کړی . تاسی باید د دی کار لپاره د ملاقات وخت جوړ کړی . دا باید یوه اونی مخکی ستاسو د شخصی کار تر پیل کیدو او یا یوه اونی وروسته وشی . د نوم د ثبتیدلو سره سم تاسو ته یو BTW لمبر درکوی . د دی کار لپاره ضرور نه ده چه تاسی په بیله توگه د مالیی دفتر Belastingdienst ته ورشی . د نور معلومات لپاره KvK ته زنگ ووهی : 088-5851585 تاسی د مشتورتی مرکی لپاره هم د ملاقات وخت جوړولی شی . یو ځلی په kvk.nl/english/starting-a-business/ کی هم وگوری . دلته په انگریزی ژبه لیکل شوی دی چه د نوم ثبتول په KvK کی څه ډول کیږی . تاسی دلته یوه معلومات پاڼه هم موندلی شی چه کولای شی داون لوډ یی کړی .

Ondernemingsplein.nl en Startup.ondernemingsplein.nl
دلته تاسی د شخصی کار په هکله د هالنډ د دولت ټول معلومات موندلی شی . د بیلگی په توگه : د مالیاتوکارونه څرنگه کیږی؟ ستاسی کوم جواز پکار دی؟ یا دا چه تاسی د یو شخصی کار پلان څرنگه جوړیږی .

### د شخصی کار کونکو لپاره مالیات

د هغو کسانو لپاره چه شخصی کار کوی د مالیاتو مقررات د نورو کسانو سره چه بل چا ته کار کوی او یا د مرستی معاش تر لاسه کوی توپیر لری. یو ځو.بیلگی : که تاسی شخصی کار کوی باید تاسی BTW ( د عایداتو مالیه) ورکړی مگر که بل چا ته کار کوی ، نه یی ورکوی .

- که تاسی یو شرکت ته کار کوی ، باید چه هغه شرکت ستاسی د معاش مالیات ورکړی.
- که هغه شرکت تاسی د یوه شخصی کارکونکی په حیث کرایه کوی ، دا ضرور نده چه دا کار وکړی .
- تاسی باید د خپل ټول کار په هکله د مالیی دفتر Belastingdienst ته خبر ورکړی ، چه آیا تاسی شخصی کار کوی او یا بل چا ته د کار کونکی په توگه کار کوی . دا مهمه ده چه د مالیی ورکولو لپاره پیسی د ځان سره بیلی وساتی که تاسی مالیه ورنکړی څه کیږی؟ تاسی جریمه کیږی . تاسی مالیه مخکی هم ورکولی شی . تاسی یی یو ځل نه ورکوی ، مگر هره میاشت یوه برخه ، د دی لپاره تاسی باید د مالیاتو د مؤقتی محاسبی درخواست وکړی .

تاسی په belastingdienst.nl/english گوری او یا په belastingdienst.nl/deutsch کی وگوری. تاسی د مالیی د دفتر تیلیفون Belastingtelefoon ته هم زنگ وهلی شی : 0800-0543 .

### ناروغی یا بیکاری

که تاسی ناروغه شی تاسو ته د یو شخصی کارکونکی په حیث د ناروغی په مودی کی معاش نه درکول کیږی . او که بیکاره شی تاسی ته د بیکاری معاش WW ( د بیکاری معاش) نه درکوی .

**آیا ستاسی د کار اجازه پکار ده؟**

**نه : که چیری تاسی تابیعت ولری د :**

- یو د EU ( اروپایی اتحادیی) هیواد
- لیختنشتاین
- ناروی
- آیسلند
- سویس

**هو: که تاسی د کرواسیا تابیعت لری .**

**هو : که تاسی د یوه بل هیواد تابیعت لری .**
د بیلګی په توګه: د یوه افریقایی یا آسیایی هیواد ستاسی د کار مالک تاسوته د UWV یا د
(Immigratie- en Naturalisatiedienst, IND)
اداری مهاجرت اوتابیعت د څخه GVVA د کار د جواز در خواست کوی . نور معلومات تاسی په
werk.nl/werkvergunning او ind.nl کی وګوری
او یا UWV ته زنګ ووهی : **088-8982070** .



# په هالنډ کی هستوګنه

## تاسي چه دلته د هستوګنی لپاره راځی څه باید وکړی؟

# هر کله د پیژندنی کارت له ځان سره ولری .

د پیژندنی د سند په توګه د اعتبار وړ دی :

- یو پاسپورټ
- د بهرنیانو لپاره هالنډی پاسپورټ
- د هالنډ د بهرنیانو لپاره سند (د اقامی اجازه )
- د بهرنیانو لپاره د هویت سند تر څو پوری چه ستاسو د پناه غوښتنی پر درخواست باندی پریکړه وشی .

تاسي باید خپل د هویت سند هر کله له ځان سره ولری . مګر هر څوک یی غوښتلای نشی .

### څه وخت باید خپل د هویت سند وښودی؟

- په کوڅکی کی یوازی که پولیس یا (Buitengewoon opsporingsambtenaar, BOA) څانګړی د جنایی تحقیق پولیس یی ستاسو څخه وغواړی .
- په عمومی ترانسپورټ کی که د ریل ، سرویس موټروان او یا کنترول کونکی یی در څخه وغواړی .
- په دوکانونو ، بانکونو او.نورو عمومی تعمیرونو کی که پهره داران یی در څخه وغواړی .
- په کار کی که ستاسی د کار مالک ، تفتیش Inspectie SZW او یا د مالیی د دفتر Belastingdienst تفتیش یی در څخه وغواړی . ستاسی د کار مالک هر وخت ستاسو د هویت د سند یوه کاپی اخلی .

که څوک ستاسی د هویت د سند پوښتنه در څخه کوی تاسی هم حق لری چه د هغه د هویت سند وپوښتی .
هیڅکله د هویت سند بل چا ته مه ورکوی .

# DigiD

په هالنډ کی د زیاتو کارونو لپاره ستاسو DigiD پکار ده . په DigiD سره تاسی د دولت او بیمی وبسایټ خلاصولی شی . تاسی د دی په مرسته د مالیاتو فورمه ډکولی شی . د کور د کرایی د مرستی پیسی درخواست کولای شی . د روغتون سره د ملاقات وخت نیولی شی . یا د مالیاتو څخه د معافیت درخواست کولتی شی
تاسی یوازی هغه وخت DigiD درخواست کولی شی
چه تاسی د هالنډ اوسیدونکی یاست .
تاسی خپل DigiD دلته درخواستوی : digid.nl/aanvragen . د دی لپاره ستاسی د BSN لمبر ( د وګړو څانګړی شمیره) پکار ده. په BSN-nummer کی وګوری .

# د کور پیدا کول

اکثره خلک چه هالنډ ته د کار لپاره راځی یو کور یا کوټه په کرایه اخلی .

### د کور کرایه کول د کار د مالک یا د کار لټولو د دفتر له لاری

تاسی وړو حروفو ته ښه وګوری، د بیلګی په توګه: چه آیا کرایه ستاسی د معاش څخه ګرځی که نه؟ د اضافی لګښتونه په هکله ښه خبری وکړی ، چه هغه څوک ورکوی . لکه: د ګاز ، برق او اوبه .

### د کرایی کور ونو د شرکت د یوه کور کرایه کول .

تاسی باید د کرایی کورونو په شرکت کی خپل نوم ثبت کړی . ستاسی د ښاروالی په وبسایټ کی د کرایی کورونو شرکتونه لیکل شوی دی .
آیا یو کور لاس ته راوړلو ته چمتو دی . تاسو ته یو خبر راځی
د کرایی بیه هر کال جګیږی . د دی لپاره د پاینټونو یو سیستم شته . تاسی په هغه سره کولای شی وګوری چه د کرایی بیه صحیح ده که نه . همدارنګه په rijksoverheid.nl/onderwerpen/huurwoning ته وګوری .
او یا حکومت ته Rijksoverheid : 1400 او +31-77-4656767.

### د کرایی د مرستی پیسی

کله تاسی د کور د کرایی د مرستی مستحق یاست . تاسو ته یو اندازه د مرستی پیسی درکول کیږی چه تاسی خپل د کور کرایه په آسانه توګه سره ورکولی شی ورکړی . د کور د کرایی د مرستی پیسی تاسی د مالیی د دفتر Belastingdienst نه درخواست کوی . تاسی په کی د مرستی او جبران کولو د پیسو په هکله نور هم ولولی .

### د شخص څخه کور په کرایه اخیستل

د کرایی کورونو شرکت هر وخت دفعتاً کور په لاس کی نلری . آیا د انتظار موده اوږده ده؟ نو تاسی کولای شی شخصی کور په کرایه ونیسی . ستاسی کرایه اکثره وخت جګه ده . کله تاسی د کور د کرایی د مرستی د پیسو مستحق یاست . شخصی کورونه اکثره وخت تاسی په شمول د ټولو شیانو کرایه کوی . اکثره وخت دا کرایه او د (برق اوګاز) د لګښت سره یو ځای وی .
د کور نور ټوله لګښتونه تاسی باید خپله ورکړی .
د بیلګی په توګه: بیمی او انترنت .

### هستوګنه د نورو بهرنیانو سره چه کار ته راغلی دی .

آیا تاسی په یوه کمپ ، د رخصتیو په پارک ، هوټل او مسافر خانی کی چه خاص د بهرنی کارکونکو لپاره ده؟ په هغه صورت کی خاص مقررات د اعتبار وړ دی . دا په هری ښاروالی کی بل ډول دی .
نو څکه تاسی په دی هکله معلومات خپل د ښاروالی څخه واخلی .

### خپل پته ښاروالی ته ورکړی .

کله چه تاسی کور ومونده ، خپل ښاروالی ته خبر ورکړی . آیا تاسی کډه کوی . په آیا تاسی کډه کوی؟ کی تاسی نور هم اولی چه څه باید وکړی.

### د کور رانیول

تاسی کولای شی چه خپله کور رانیسی . آیا تاسی خپله کافی پیسی نلری؟
نو تاسی باید قرضه واخلی او یا د تعمیراتی بانک څخه پور وکړی . د دی لپاره مقررات سخت دی . په rijksoverheid.nl/onderwerpen/koopwoning کی وګوری . تاسی کولای شی چه حکومت ته زنګ ووهی Rijksoverheid : 1400 او +31-77-4656767 . هغه سود چه تاسی یی تعمیراتی قرضی ته ورکوی ، کولای شی د مالیاتو د دفتر څخه یی بیرته واخلی .
تاسی چه شخصی کور رانیوی باید اضافی مالیه ورکړی . دا د شخصی کور د جریمی په نامه یادیږی . تاسی د نور معلومات لپاره د مالیی د ټیلیفون Belastingtelefoon ته زنګ ووهی : 0800-0543 . یا په belastingdienst.nl/english کی وګوری او یا په belastingdienst.nl/deutsch کی .

### منطقوی مالیات ، که چیری تاسی شخصی کور لری

آیا تاسی کرایی کور لری که شخصی؟ نو تاسی باید منطقوی مالیات ورکړی .
د بد رفت مالیه

- د کثافاتو مالیات
- OZB ( د امکاکنو مالیات )
- د اوبو مالیات
- منطقوی مالیات په هری ښاروالی کی بل ډول دی . خپل په ښاروالی کی پوښتنه وکړی چه تاسی څومره خپل په ښاروالی کی باید ورکړی .

**په هستوګنه کی ستونځی لری؟**
آیا ستاسی کرایه جګه ده؟ په huurcommissie.nl کی وګوری . هلته لیکل شوی دی چه ستاسی کرایه څومره باید وی او د کرایه ورکونکی په حیث ستاسو حقوق کوم دی. تاسی حکومت ته هم زنګ وهلی شی Rijksoverheid : **1400** او **+31-77-4656767** .
آیا ستاسی کور مصوؤن ندی؟ آیا تاسی د ډیرو کسانو سره په یوی کوټی یا یوه کور کی ژوند کوی؟ آیا تاسی خپل د کور د مالک سره شخړه لری؟ د حقوقی مشوری د دفتر Juridisch Loket څخه پوښتنه وکړی چه تاسی څه باید وکړی؟ د ملاقات د وخت د ټاکلو لپاره زنګ ووهی : **0900-8020** په juridischloket.nl/wonen/huurwoning کی وګوری .

### کثافات

زیاتی ښاروالی کانی خپل کثافات په بیلابیله توګه سره ټولوی .
دا پدی معنی چه تاسی ټوله شیان په بیله توګه سره ورکړی .
ښیښي ، کاغذ ، د کور کثافات ، پلاستیک .
آیا تاسی مقررات نه مراعات کوی؟ کیدای شی چه جریمه شی .
نو ځکه خپل د ښاروالی څخه پوښتنه وکړی چه مقررات کوم دی؟

## په هالنډ کی موټر چلول

### د موټروانی اعتبار وړ لیسانس

که تاسی په هالنډ کی ژوند وکړی آیا غواړی موټر وچلوی؟ نو تاسی ته یو د اعتبار وړ لیسانس پکار دی . ستاسی د وطن لیسانس دلته نه چلیږی. نو ځکه تاسی باید بیرته د موټروانی لیسانس واخلی . دا د یوه موټروانی د ښوونځی له لاری کیدای شی . د rijschoolgegevens.nl کولای شی د موټروانی ښوونځی ولټوی .
د نور معلومات لپاره هم د (Rijksdienst voor het Wegverkeer, RDW)
ترافیکو دولتی خدمات د : 0900-0739 ( 0,10 € په دقیقه کی)
یا په rdw.nl/englishinformation کی وګوری .

### د موټر رانیول

آیا تاسی په هالنډ کی مو ټر رانیسی؟ دا باید تاسی ژر وکړی .

- د موټر بیمه کول
- (Motorrijtuigenbelasting, MRB) د موټرو مالیات ورکول

که ستاسی موټر بیمه شوی نه وی ، کیدای شی چه جریمه شی . اویا که MRB د موټر مالیه ورنکړی .
په rdw.nl/englishinformation کی لیکل شوی چه تاسی موټر رانیسی باید څه شی ته پاملرنه وکړی .
د MRB په هکله نور معلومات لپاره د مالیاتو د دفتر د موټرو ټیلیفون Belastingtelefoon Auto ته زنګ ووهی : 0800-0749 او یا په belastingdienst.nl/deutsch کی یا په belastingdienst.nl/english کی وګوری .

### د موټرانو تخنیکی کنترول

موټر باید په اجباری توګه د مصوؤنیت او د محیط د ککړوالی په موخه کنترول شی . دا چه دا څومره ژر باید سرته ورسیږی ، د موټر په زړتیا ، دروندوالی او د سوځیدو په توکو پوری اړه لری . د نور معلومات لپاره (Rijksdienst voor het Wegverkeer, RDW)
ترافیکو دولتی خدمات د ته زنګ ووهی : 0900-0739
( 0,10 € په دقیقه کی) . یا په rdw.nl/englishinformation کی وګوری .

### د MRB څخه معافیت

کله کله ضرور نه ده چه تاسی (Motorrijtuigenbelasting, MRB)
د موټرو مالیات ورکړی. د بیلګی په توګه :
که تاسی یوه بهرنی شرکت ته کار کوی . دغه معافیت باید تاسی خپله درخواست کړی. دا د مالیی په دفتر Belastingdienst کی کیدای شی . د دی لپاره تاسی د مالیی د دفتر د موټرو ټیلیفون Belastingtelefoon Auto : 0800-0749
ته زنګ ووهی او یا په belastingdienst.nl/deutsch کی,
یا په belastingdienst.nl/english کی وګوری .

### عمومی ترانسپورټ په هالنډ کی

تاسی ته د دی لپاره د OV چیپ کارت پکار دی. تاسی دغه چیپ کارت په ستیشن ، سوپر مارکیټ او د سګرټ پلورلو په دوکان کی رانیولی شی . تاسی کولای شی دغه کارت ته هلته ارتقاء ورکړی . په ov-chipkaart.nl کی وګوری .

## ماشومان

تاسې باید خپل ماشومان په ښاروالۍ کې ثبت کړئ . او په ښوونځې کې

### ښوونځې او د زده کړې مکلفیت د ۵ تر ۱۸ کلنۍ پورې

په هالنډ کې ماشومان د ۴ نه اجازه لري چه ابتدائي ښوونځې ته ولاړ شي . د ۵ کلنۍ نه ماشومان د زده کړې مکلفیت لري . دا تر هغه وخته دی چه هغوی ۱۸ کلن شي . اکثره وخت ما شومان د ۱۳ کلنۍ نه لیسې ته ځي . د بیلګې په توګه : vmbo, vwo, havo
تاسې خپله کولای شي یو ابتدائیه ښوونځې ولټوی . د دې لپاره یوه الکترونیکي معلومات پاڼه شته . دغه معلومات پاڼه یوازې په هالنډی ژبه شته . په rijksoverheid.nl/onderwerpen/basisonderwijs کې وګورئ . ځینې وختونه هم تاسې د ښاروالۍ نه د ښوونځې د انتخابولو په هکله معلومات تر لاسه کوئ . همدارنګه تاسې کولای شئ په scholenopdekaart.nl ښوونځې مقایسه کړئ .
تاسې طبعاً کولای شئ چه یوې ښوونځې ته ورشئ او ویې ګورئ . د دې لپاره تاسې د ښوونځې سره د ملاقات وخت جوړ کړئ . یا د ښاروالۍ سره تاسې هم کولای شئ Rijksoverheid ته زنګ ووهئ : 1400 یا +31-77-4656767 . او یا په rijksoverheid.nl/onderwerpen/leerplicht کې وګورئ .
او په rijksoverheid.nl/onderwerpen/basisonderwijs کې وګورئ .

### ورکتون

په هالنډ کې زیات ماشومان د ماشومانو مرکز یا د ماشومانو د لوبو ځای ته ځي . د غه ورکتون پیسې غواړي
دلته څلور امکانات شته

- د ماشومانو مرکز ، د غونډی ورځې لپاره : د صفر نه تر ۴ کلنۍ کاشومانو لپاره
- د ماشومانو مرکز ، د ښوونځې تر وخت وروسته : د ۴ کلن نه تر ۱۲ کلن ماشومانو لپاره
- هغه کسان چه خپل په کور کې ماشومان ساتي: د صفر نه تر ۱۲ کلنۍ پورې
- ورکتون: د ۲ کلن نه تر ۴ کلن ماشومانو.لپاره

### د ژبې زده کړې ته زیاته پاملرنه

زیات ورکتونونه او د ماشومانو مراکز هالنډی ژبې ته زیاته پاملرنه کوی . له دی کبله ستاسې ماشوم ابتدائیه ښوونځې ښه پیل کولای شي وکړی . خپل د ښاروالۍ څخه په دې هکله معلومات وغواړئ .

### د ورکتون لپاره مالي مرسته

آیا ستاسې ماشوم یوه راجستر شوی ورکتون ته ځي؟ یا یوه راجستر شوی کس ته چه په کور کې ماشومان ساتي ؟ نو تاسې کولای شی چه د ورکتون د لګښت لپاره مالي مرسته درخواست کړئ. په د غه مرستې سره تاسو ته آسانه کیږي چه د ورکتون پیسې ورکړئ . پاملرنه وکړئ : د ماشوم د ورکتون لپاره مالي مرسته یوازې هغه وخت ممکنه ده چه د کار له کبله په کور کې هیڅ څوک نه وی .
تاسې مالي مرسته د مالیې د دفتر نه درخواست کوئ ( مالي مرسته ) . په toeslagen.nl کې د ورکتون لپاره د مالي مرستو شرایط لیکل شوی دی . د نور معلومات لپاره د مالیاتو د د فتر تیلیفون Belastingtelefoon ته زنګ ووهئ : 0800-0543 . او یا landelijkregisterkinderopvang.nl وګورئ
او یا په rijksoverheid.nl/onderwerpen/kinderopvang کې .

### تر ۴ کلنۍ ماشومانو لپاره د کورنیو د روغتیا کلینیک

د روغتیا په کینیک کې ډاکتران او نرسان کار کوی . هغوی تر څلور کلنۍ ماشومانو د روغتیا او ودې په هکله په ټولو موضوعاتو باندې پوهیږي . د مشومانو دروغتیا کلینیک وړیا دی
که تاسې خپل ماشوم په خپل ښاروالۍ کې ثبت کړئ ، تاسو ته د ماشومانو د روغتیا د کلینیک لخوا اتومات یو لیک راځي .
تر هغه وروسته تاسې خپله د ملاقات وخت جوړوئ .
خپل د ښاروالۍ څخه نور معلومات وغواړئ . تاسې GGD ته هم ورتلی شي . د پتې د اخیستلو لپاره زنګ ووهئ 030-2523004 .
او یا خپل د GGD پته په ggd.nl/contact کې ولټوئ .

### د ښوونځې ډاکتر او نرس تر ۱۹ کلن ماشومانو لپاره

هره ښوونځې د د تنکې ځوانانو او کورنیو مرکز (Centrum voor Jeugd en Gezin, CJG) . د ډاکترانو او نرسانو سره په ګډه کار کوی . هغوی په هر څو کلونو کې ګورئ چه د ښوونځې ماشومان روغ دی او ښه وده کوی . دا کتنه وړیا ده ستاسې ماشوم د ښوونځې لخوا یو بلنلیک تر لاسه کوی . کله هم په ښوونځې کې د کتنې ساعت دی . دا مهمه ده چه تاسې هم ورشئ .

### تر ۱۹ کلن ماشومانو لپاره د دولتي واکسینونو پروګرام

د هالنډ د واکسینونو دولتي پروګرام ماشومان د دوولس سختو ساری ناروغیو په مقابل کې محافظه کوی . د بیلګې په توګه : کوځک ، شرۍ او تر ټوخ
واکسین کول اجباری ندی . مګر اکثره میندی او پلرونه (د ۹۵ % نه زیات ) یې غوره کوی .
تاسې کولای شئ چه خپل ماشومان په کورنی ډاکتر باندې واکسین کړئ .
یا د ماشوم د روغتیا په کلینیک کې . یوازې په دغه توګه واکسین وړیا دی . په rijksvaccinatieprogramma.nl کې وګورئ . او یا په rivm.nl/en کې .

### په روزنې کې مرسته

په ښاروالۍ کې یو (Centrum voor Jeugd en Gezin, CJG) ( د تنکې ماشومانو د روغتیا مرکز ) شته . هلته تاسې د روغتیا ، ودې او روزنې په هکله د ټولو پوښتنو لپاره تلای شي . تاسې هغه مشورې ، ملاتړ او مرستې چه ستاسو بکار دی ، تر لاسه کوی . د ماشومانو د ښوونځې ډاکتران او نرسان هم په CJG پورې اړه لري .
د نور معلومات لپاره تاسې کولای شي چه opvoeden.nl پر باندې کلیک وکړئ .

## روغتیایي یا صحي بیمه

روغتیایي بیمه اجباری ده . د دې لپاره تاسې د بیمې شرکت ته ورځئ . یوه صحي بیمه بیلا بیلې برخې لري .

- یوه ابتدایي بیمه دا اجباری ده
- یوه اضافي بیمه دا خپل په خوښه ده
- د غاښو د ډاکټر بیمه دا خپل په خوښه ده

**پاملرنه : که تاسی ځان صحی بیمه نکړی؟** تاسی جریمه کیږی. او باید چه خپل د ډاکتر او درملو لګښت خپله ورکړی . د نور معلومات لپاره د صحی بیمو د ټیلیفون Zorgverzekeringslijn : ته زنګ ووهی : **0800-6464644** او **+31-889006960** . شمیری ته . اویا په zorgverzekeringslijn.nl/coming-from-abroad . کی وګوری .

د صحی بیمی میاشتنی لګښت

د بیمی میاشتنی لګښت په هر شرکت کی توپیر لری . دا باید تاسی خپله ورکړی . ځینی وختونه تاسی د صحی بیمی لپاره مالی مرسته اخلی . تاسی کولای شی د بیمی لګښت په آسانه توګه ورکړی . د دی لپاره تاسی په مالی مرستو او جبران کولوکی وګوری . ماشومان تر ۱۸ کلنی پوری بیمه دی .

هغه لګښت چه تاسی یی خپله ورکړی.

تولی صحی بیمی یو کښته اندازه اجباری مالی ونډه غواړی چه تاسی یی خپله باید ورکړی . په ۲۰۱۶ کی دا ونډه ۳۸۵ € ده . تاسی کولای شی دغه ونډه خپله وټاکی . پدی صورت کی تاسی هره میاشت بیمی ته کمی پیسی ورکوی . د بیمی په زیاتو شرکتونو کی تاسی کولای شی خپل ونډه پیسی هره میاشت په قسط سره د بیمی شرکت ته ورکړی .

خپل ونډه ستاسی د بیلګی په توګه د اعتبار وړ ده :

- چه تاسی، درمل اخلی
- کله چه روغتون باید ولاړ شی
- د وینی معاینات کوی

ستاسی خپله ونډه د اعتبار وړ نده که چیری :

تاسی کورنی ډاکتر ته ځی

- که تاسی د ولادی ډاکتر او قابلی مرستی ته اړتیا ولری
- د خینو مضمنه ناروغی تداوی ته اړتیا ولری
- د منطقی نرس ته اړتیا ولری
- تر ۱۸ کلنی د ماشومانو مراقبت
- فیزیو تراپی ته اړتیا لری تر ۲۲ معالجو وروسته یی باید لګښت خپله ورکړی

**پاملرنه : آیا تاسی صحی بیمی ته خپل ونډه نه ورکوی؟** نوتاسی به اضافی لګښت راشی : د لګښتونو د راټولولو مصرف د نور معلومات لپاره د بیمی ټیلیفون Zorgverzekeringslijn ته زنګ ووهی : **0800-6464644** او **+31-889006960** . او یا zorgverzekeringslijn.nl/coming-from-abroad . کی وګوری .

آیا ستاسی د کار مالک خارجی دی؟

نوتاسی کولای شی خپل د هیواد صحی بیمه وساتی . د دی لپاره مقررات شته. د نور معلومات لپاره (Sociale Verzekeringsbank, SVB) د بیمو تولنیز بانک ته زنګ ووهی : 020-6565277 . یا په svb.nl/int/nl/algemeen/wizards/w_nl_btl_wg.jsp کی وګوری. تاسی هلته په انګلیی ، فرانسوی، آلمانی، هسپانیایی او ترکی ژبو معلومات موندلی شی .

ستاسی د کار د مالک لخوا

ځینی وختونه تاسی خپل د کار د مالک له لاری ځان صحی بیمه کولای شی. دا د ګډی صحی بیمی په نامه یادیږی .

اکثره وخت دا بیمه تر هغی بیمی چه تاسی یی خپله کوی ، ارزانه ده . نور معلومات خپل د کار د مالک څخه واخلی .

**مشوره : په** zorgverzekeringslijn.nl کی وګوری. هلته په پولنډی، هسپانیایی، فرانسوی، انګیسی او آلمانی ژبه معلومات شته.

په صحی بیمی کی مالی مرسته

آیا تاسی ټیټ عاید لری؟ شاید ستاسی سره مالی مرسته وشی تاسی کولای شی صحی بیمه په آسانی سره ورکړی. په مالی مرستی او جبرانولو کی ګوری .

## صحی مراقبت

په هالنډ کی صحی مراقبت وړیا ندی. مګر زیات مراقبت ستاسی د صحی بیمی د شرکت لخوا سرته رسیږی.

- ابتدایی مراقبت لکه: کورنی ډاکتر ، د غاښونو ډاکتر ، او د فیزیوتراپی معالج تاسی د دغو کسانو سره خپله د ملاقات وخت نیولی شی .
- د متخصص مراقبت لکه: روان پوه ډاکتر ، نسایی ډاکتر یا د غوږو، ستونی اوپزی ډاکتر د دی لپاره باید تاسی معرفی لیک واخلی . د کورنی ډاکتر یا د غاښو د ډاکتر لخوا څخه
- په روغتون کی عاجل سرویس ، د بیلګی په توګه : که ستاسی لاس مات شی او یا دفعتاً د زړه سختی ناروغی ولری . د عاجل سرویس شمیره ۱۱۲ ده دا د پولیسو ، اطفایی او امبولانس لپاره ده .

تاسی خپل ځانته یو کورنی ډاکتر ولټوی .

نو تاسی په اطمینان سره پوهیږی چه یو کورنی ډاکتر لری . د شپی لخوا او هم د هفتی په پای کی تاسی خپل کورنی ډاکتر ته زنګ وهی. هغه د نوکریوال کورنی ډاکتر یا د روغتون د نوکریوال ډاکتر Huisartsenpost د ټیلیفون شمیره تاسی ته درکوی .

### روغتون ته تګ د غیر عاجل ناروغیو لپاره

آیا تاسی روغتون ته ځی په داسی حال کی چه ستاسو ناروغی عاجله نده؟ نو تاسی باید خپل ونده لګښت پخپله وکړی. ځینی وختونه هم باید د صحی مراقبت لګښت خپله ورکړی . آیا تاسی شک لری چه ستاسی ناروغی عاجله ده که نه؟ نو تاسی خپل کورنی ډاکتر یا د روغتون نوکریوال ډاکتر Huisartsenpost ته د مشوری لپاره زنګ ووهی .

### تولنیز مراقبت

د ټولنیزو مرستو اداره ستاسو سره د کور ، رفاع ، ښوونی او روزنی په چارو کی مرستی کوی . خپل د ښاروالی څخه نور معلومات وغواړی .

## مالیات

تاسی چه په هالنډ کی ژوند او کار کوی باید د مالیاتو دفتر Belastingdienst ته مالیه ورکړی . او منطقوی مالیات خپل ښاروالی ته او د اوبو لپاره

### تاسی که په هالنډ کی ژوند کوی د مالیاتو ډولونه

- د عایداتو ما لیات که تاسی معاش یا د سوسیال معاش اخلی (د عایداتو د خبر ورکولو فورمه) .
- د اضافی ارزښت مالیات یا BTW که تاسی خپل شرکت لری (د شخصی شرکتونو مالیات).
- د موټرو مالیات : که تاسی موټر لری (په هالنډ کی موټر چلول) .
- منطقوی مالیات: که چیری تاسی کور کرایه کوی یا رانیسی (منطقوی مالیات)

د نور معلومات لپاره د مالیاتو ټیلیفون Belastingtelefoon ته زنګ ووهی : 0800-0543 او یا په belastingdienst.nl/english کی وګوری او یا په belastingdienst.nl/deutsch کی. د منطقوی مالیاتو لپاره تاسی کولای شی چه خپل د ښاروالی سره اړیکه ونیسی .

### جریمه ، که تاسی مالیه ورنکړی.

که تاسی مالیه ورنکړی ، باید جریمه ورکړی. که چیری تاسی یی تحویل نکړی ، جریمه نوره هم جګیږی . تاسی باید اکثره وختونه اضافی لګښت هم ورکړی . لکه : د جریمو د راټولو د اداری لګښت د مالیاتو دفتر Belastingdienst کولای شی ستاسی معاش هم ضبط کړی . یا ستاسی پر مالونو باندی. د نور معلومات لپاره د مالیی د دفتر ټیلیفون Belastingtelefoon ته زنګ ووهی: 0800-0543 په belastingdienst.nl/english کی وګوری یا په belastingdienst.nl/deutschکی .

## مالی مرستی او د لګښتونه جبرانول

هغه کسان چه ټیټ عایدات لری په هالنډ کی مالی مرستی تر لاسه کوی . مالی مرستی په بیلا بیلو ډولونو سره دی :

- د کور د کرایی مالی مرسته په دی توګه تاسی خپل کرایه په آسانه توګه سره ورکولای شی .
- د ماشومانو لپاره مالی مرسته: په دی باندی تاسی خپل ماشومانو ته شیان اخلی . د بیلګی په توګه: جامی یا یو بایسکل
- د صحی مراقبت لپاره مالی مرسته که ستاسی عاید ټیټ وی چه وکولای شی خپل د صحی بیمی پیسی ورکړی .
- د ورکتون لپاره مالی مرسته تر څو چه تاسی د ورکتون پیسی په آسانی سره وکولای شی ورکړی .

هڅه وکړی چه مالی مرستی خپل په بانکی حساب کی تر لاسه کړی . نه خپل د کار د مالک ، د کار لټولو د دفتر او یا د کور د خاوند په بانکی حساب کی . تاسی د نور معلومات لپاره د مالیی د دفتر ټیلیفون Belastingtelefoon ته زنګ ووهی :
0800-0543 او یا په belastingdienst.nl/english کی وګوری یا په belastingdienst.nl/deutsch کی. تاسی هم کولای شی په toeslagen.nl کی وګوری. د دی تر څنګ په هالنډی ژبه ټول معلومات .

**پاملرنه : آیا تاسی د هالنډ څخه ځی؟** نو خپل مالی مرستی ودروی. که نه نو جریمه کیږی .

څه وخت تاسی مکلف یاست د هالنډ څخه ولاړ شی؟
ستاسی د اوسیدلو حق په هالنډ کی له منځه ځی که :
- تاسی د خپلی اقامی د حق شرایط نور نشی تر سره کولای . د بیلګی په توګه: که تاسی د اقامی اجازه لری پدی چه په هالنډ کی کار وکړی او تاسی بر طرفه شی . او یا تاسی خپل د خاوند سره د اوسیدلو لپاره د اقامی اجازه لری او تاسی ځینی بیل شی .
- د ژوند کولو لپاره امکانات نلری .
- او پرټولنیز سیستم باندی معقوله فشار راځی.
- د جنایی جرمونو مرتکب شی .
په ind.nl کی هم وګوری .

## غیر عادلانه برخورد او تبعیض

د هالنډ په اساسی قانون کی بنسټیز قوانین وضع شوی دی. دغه قوانین په هالنډ کی د ټولو لپاره د اعتبار وړ دی . د بیلګی په توګه: ټوله کسان چه کار کوی یو شان حقوق لری. آیا تاسی یو مؤقتی قرار داد لری او که نیمایی ورځ کار کوی؟ نو ستاسی هغه حقوق د هغو کسانو سره چه دایمی قرارداد لری او پوره ورځ کار کوی ، یو شان دی .
آیا تاسی غواړی د هالنډ په اساسی قانون او اصلی ارزښتونو باندی نور هم پوه شی؟ تاسی کولای شی د prodemos.nl/voor-gemeenten/burgerparticipatie/ /toolbox-participatieverklaring/download-materialen-gratis لاری ډاون لوډ کړی. معلومات پاڼه په بیلا بیلو ژبو ده .
د بیلګی په توګه: انګلیسی ، فرانسوی او هسپانیایی .

آیا تاسی احساس کوی چه ستاسی په وړاندی نا برابره برخورد یا تبعیض شوی دی ؟ نو تاسی کولای شی چه بشر د حقوقو سازمان College voor de Rechten van de Mens ته شکایت وړاندی کړی . دا وړیا دی تاسی زنګ ووهی : 030-8883888 او یا info@mensenrechten.nl . ته ای میل ولیږی .تاسی کولای شی چه پولیسو او یا antidiscriminatiewetvoorziening (AVD) د ښاروالی دتبعیض ضد تدابیرو څانګی ته ورشی .



# نور معلومات او مرسته

| پوښتنې یا اطلاعات په هکله: | سازمانونه | د ټیلیفون شمیره | وبسایټ |
|---|---|---|---|
| د اوسیدونکی په توګه د نوم ثبتول ، قوانین او مقررات | Rijksoverheid | 1400 او<br>+31-77-4656767 | rijksoverheid.nl |
| صحی بیمی او د بیمی یوه برخه چه خپله یی ورکوی | Zorgverzekeringslijn | 0800-6464644 او<br>+31-88-9006960 | zorgverzekeringslijn.nl/<br>coming-from-abroad |
| ستاسی معاش تاسی باید لږ تر لږه څومره پیسی وکټی؟ | Rijksoverheid | 1400 او<br>+31-77-4656767 | rijksoverheid.nl |
| د اعتبار ور ډیپلومونه او شهادتنامی | Nuffic | 070-4260260 | nuffic.nl/en |
| د اعتبار ور ډیپلومونه او شهادتنامی | SBB (Stichting Samenwerking Beroepsonderwijs Bedrijfsleven) | 088-3380000 | s-bb.nl/en |
| د ګار د خرابو حالاتو او استثمار په هکله خبرتیا | Inspectie SZW | 0800-5151 او<br>+31-70-3335678 | inspectieszw.nl |
| د کار لټولو د دفتر اعتبار | ABU (Algemene Bond Uitzendondernemingen)<br>NBBU | 020-6558255<br><br>033-4760200 | abu.nl<br><br>nbbu.nl |
| د کار د مالک مشخصات ، د شخصی کار ثبتول | Kamer van Koophandel | 0900-1234567<br>(0,70 € په دقیقه کی) | kvk.nl |
| په CAO کی د کار شرایط | FNV (Federatie Nederlandse Vakbeweging)<br>CNV (Christelijk Nationaal Vakverbond) | 088-3680368<br><br>030-7511001 | fnv.nl/contact<br><br>cnv.nl |
| دسوسیال معاش | UWV<br>(uitkerende instantie) | 0900-9294<br>(0,70 € په دقیقه کی ،<br>د پیل لپاره ۰۴ ، ۰) | uwv.nl |
| مالیی او مالی مرستی | Belastingdienst | د مالیاتو د دفتر ټیلیفون:<br>(Belastingtelefoon)<br>0800-0543 | belastingdienst.nl/english<br>او<br>belastingdienst.nl/deutsch |
| په هالنډ کی موټر چلول، لمبر پلیټ | RDW (Rijksdienst voor het Wegverkeer) | 0900-0739<br>(0,10 € په دقیقه کی) | rdw.nl/<br>englishinformation |
| د کار لټولو د دفتر څخه تر تاکل شوی حد لږ.معاش اخیستل | SNCU (Stichting Naleving CAO voor Uitzendkrachten) | 0800-7008 | sncu.nl |
| د موټرو صادرول ، د موټرو مالیات او bpm | Belastingtelefoon Auto | 0800-0749 | belastingdienst.nl/auto |
| تبعیض یا نا برابره برخورد | College voor de Rechten van de Mens | 030-8883888 | mensenrechten.nl |



**نور معلومات**

د نور مهلومات لپاره په
newinthenetherlands.nl کی وګوری
یا rijksoverheid.nl . کی

د کار او ټولنیزو چارو وزارت
Ministerie van Sociale Zaken en Werkgelegenheid
Postbus 90801 | 2509 LV Den Haag

دغه معلومات پانه په زیاتی پاملرنی سره جوړه شوی ده
. د دغه معلومات پاڼی د محتوا د غلطیو او نیمګړتیاوو
په وړاندی د کار او ټولنیزو چارو د وزارت
Ministerie van Sociale zaken en Werkgelegenheid
په هیڅ ډول سره قانونی مسوؤل نشی ګڼل کیدای. د دغه
معلومات پاڼی د محتوا په هکله هم کومه ادعا نشی کیدای.
دا محتوا د ۲۰۱۶ کال د قانون پر اساس ولاړه ده.

Pashto | Juni 2016